داکتر محمد ایمل

۲۰۱۸/۰۵/۰۲

# انالله و اناالیه راجعون!

د کابل د وروستیو خونړیو حوادثو قربانیانو ته جنت فردوس، ټپیانو ته عاجله شفا، غمځپلیو کورنیو او په مجموع کی خپل مظلوم ولس ته د زره صبر غواړم.

دا چی نن ژورنالیستان هدف وګرځیدل څو موده وړاندی د قرآن کریم حافظان په نښه شول په ټوله کی متأسفانه افغانانو یو بل ووژل د مشترک دښمن په لمسولو دا کار په دی خاطر دښمنانو مهندسي کړي چی د ټولنی مختلف قشرونه له یو بل سره په تربګنی او دښمنی ګرفتار کړي، په د دغه ټولو حوادثو کی د نظام د نهه پنځم ستون لاس لري دا څو ورځي وړاندی می هم دا په ډاګه لیکلي وه د وطن د کربلا په لیکنه کی چی مختلفو افغاني سایټو کی نشر شوي وه اوس بیا وایم پنځم ستون د حکومت له د ننه څخه تروریستانو ته د حملو ضمینه سازي کوی.



اشرف غنی چی ځان دوه توټي هم کا څه نشي کولي پدی چی نه اردو نه پولیس او نه هم امنیت یا خاد ملي دي لا تر اوسه دا بنسټونه قومي او تنظیمي دي چی د پلورل شویو مشرانو په اشاره یي ځرخي نه د ولسمشر او ملت .

یوازیني چاره د ملت د سولی غوښتنی حرکت دي چی لدی حالت څخه ځان خلاص کړي د جنګ پر ضد ولسي پرلتونه په ټول افغانستان کی او اشرف غنی د هم د منظور پښتین لاره غوره کړي د ملت له خولی د جنګ د بندولو او دایمي سولی په راوستو کی کار واخلي تر کله به د افغانانو وینې د نورو د اهدافو لپاره توئیګي.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com